# وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ أَسْبِغُوا الْوُضُوءَ» پوندې په اور سره هلاکې دي، اودس بشپړ کړئ

له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي: موږ د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره له مکې مکرمې بیرته مدینې ته د راستنېدو په حال کې وو، تر دې چې یو ځای کې اوبو ته راورسیدو، نو زموږ ملګرو د مازدیګر پر مهال بیړه وکړه، اودسونه یې وکړل، نو کله چې وروړسېدو پوندې یې معلومیدې چې وچې دي او لمدې شوي ندي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ أَسْبِغُوا الْوُضُوءَ» پوندې په اور سره هلاکې دي، اودس بشپړ کړئ.
[(صحیح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو اصحابو سره له مکې څخه مدینې ته په سفر روان و چې ځینې صحابه کرامو اوبه ولیدې، نو د مازدیګر د لمانځه د ادا کولو لپاره یې په اوداسه کې بیړه وکړه، تر دې چې د پوندو وچوالی یې له ورایه ښکارېده، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغو خلکو ته په اور کې عذاب او هلاکت دی چې د اودس پر مهال د پوندو په وینځلو کې نیمګړتیا کوي، او بیا یې ورته امر وکړ چې د اودس په بشپړولو کې باید مبالغه وکړي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee